مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی ۲۰۲۳/۱۱/۰۷

# د کونړ سیند؛ څپې او زمزمې

## ما د کونړ له سینده جار کړي زما لالي به په کې مخ و ینځلی وینه

اوبه نه یواځې د هر ساکښ او نبات لومړنی اړتیا ده، بلکې هغه د جماد او د دې پراخه طبیعت ښکلا هم ده. اوبه زراعت دی، سیاست دی، اقتصاد دی او پرمختګ دی. له نن څخه ۷۳ کاله پخوا، یو کاناډایي پوهاند یوه تیوري وړاندې کړې وه چې د را رواني پیړۍ جنګونه به د تیلو پر ځای، د اوبو پر سر وي چې نښې یې ورو ورو څرګندیږي. د امریکا د جان هاپکنز پوهنتون خبرداری ورکوي چې له ۲۰۲۵م کال وروسته به د نړۍ د هرو دریو تنو څخه یو تن په داسې هیواد کې ژوند کوي چې هلته به د اوبو کمښت وي. افغانستان د اوبو له بابته یو بسیا او بدایه هېواد دی چې د اوبو کلنی جریان یې ۷۵ میلیاردو مترو مکعبو ته رسي. د پرله پسې بهرنیو یرغلونو، کورنیو جګړو، د ځینو مغرضو او بدنیته ګاونډیانو لاسوهنو او د تخنیکي ظرفیتونو د کمي له امله، یوازې شل ملیارده مکعبه اوبه په هېواد کې مصرفیږي او پاتې یې په وړیا توګه د ګاونډیانو په لور بهیږي. افغانستان تول ۱۳۰ لوی او کوچني سیندونه او روان خوړونه لري چې د کونړ سیند، له آمو او هلمند وروسته په دریم کتار کې ولاړ دی.

د کونړ لنډی یا د اسمار سیند چې لرغوني نوم یې راسا دی، د پامیر د څلور زره متره لوړې څوکې څخه د بروغل کوتل سره پیل او د هندوکش غر په ختیزه څنډه کې واخان له یارقند سره نښلوي. دغه سیند چې کله د چترال له لوري د ارنوی په برخه کې د ډیورنډ له کرښې را واوړي، نو د کونړ سیند نوم خپل کړي. د غرنیو ناوونو او کړلیچونو په اوږدو کې د پامیر څخه رابهیدونکې د ګنو کمکیو شیلو او خوړونو سره یوځای او د اوبو کچه یې ورو ورو لوړیږي. د کونړ د سیند بله مهمه برخه د هندوکش له غرونو څخه د ۴۴۷۶ مترو له لوړې څوکې څخه رابهیدونکي اوبه دي چې د نورستان ولایت له باشګل، وایګل او پارون څخه راکوزیږي او د پیچ سیند جوړوي. دغه سیند د خپل مزل په ترڅ کې د شوریک خوړ، د کوړنګل خوړ او د وته پور په سیمه کې له غټو چینو څخه له راغلو اوبو سره یوځای او په اسعد آباد کې له لنډي سیند سره غاړه غړۍ کیږي.

د کونړ سیند ۱۱ ملیارده متر مکعبه اوبه لري او د ننګرهار ولایت په بهسودو کې د کابل له سیند سره ګډیږي. دغه سیند د غرونو له جګو څوکو تر ننګرهاره، اویا میله (۱۱۲کیلو متره) واټن لري. د کامې، ګوشتي، لعلپورې او نورو سیمو څخه تېرېږي او بیا د کوزې پښتونخوا په لور ځي چې له آباسین سره مل شي. د کونړ د سیند مجموعي اوږد والی، له پیله تر پایه ۴۱۱ کیلو متره دی. له بده مرغه، نه کونړیانو او نه پاتې هیوادوالو له دې څپانده سیند څخه د کرهنې، انرژۍ او برېښنا په برخو کې چندان ګټه نه اخلې. یواځې د کونړ د نوآباد، نرنګ، څوکی، نورګل، پشد، سرکانو او خاص کونړ په ولسوالیو کې ویالې تیرې شوي او په اسعد آباد کې یو وړوکي برېښنا بند جوړ شوی دی.

د کونړ پر سیند د بندونو د جوړیدو خبرې د شهید ولسمشر، محمد داود له وخته زمزمه کیږي. اروابناد پلان درلود چې د اسمار د سور طاق د برېښنا پروژه په ۱۳۵۸هجري لمریز کال کې پیل کړي، خو د غوایي خونکارۍ کودتا هرڅه په همدغه سیند کې لاهو کړل. د کونړ سیند په ګرمیو کې ځوانان وړي او یا په ځنګلونو کې د وهل شوو نښترو ګرګې او شاوړې له دنګو غرونو څخه له ځان سره راکوزوي. د کونړ د اوبو د مهارولو په خاطر یو ترکې، یو هندي او یو جاپاني انجنیر د مرموزو لاسونو قرباني شوي؛ ولی د کونړ ولسونه به د هغوی سربښندنې او پیرزوینې هیڅکله له یاده ونه باسي.

اکرام ایمان، د سیندونو په هکله پخپل تحقیق کې کاږي: «زموږ د هیواد طبیعي جوړښت د بندونو جوړولو ته ښه سازګار دی او په کم لګښت کولای شو ډیر بندونه وتړو. په دې سره به موږ د ګاونډیو هیوادونو له وارداتي برېښنا څخه خلاص او د خپلې انرژۍ څښتن شو. ګاوندیان بیا نه شي کولای چې زموږ له مجبوریتونو څخه بده استفاده وکړي او موږ به د یو آزاد ملت په توګه، له دوئ سره د متقابلو اړیکو او ګټو پربنسټ چلند کوو. د اوبو د ښه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کنټرول او مدیریت بله ګټه دا ده چې د کرنې سکتور مو پیاوړی کوي، خپلې اړتیاوې پوره کوو او د نړۍ مارکېټونو ته لاره مومو».
په جرمني کې میشت افغان انجنیر، عبدالغفار ستارزوی د یوې څېړنیزې مقالې په ترڅ کې داسې یادونه کوي: « د افغانستان حکومت له ازبکستان څخه د خپلې بیړنۍ اړتیا له مخې بریښنا واردوي چې د شپږ سوه کیلومترو واټن وهي. د دغه برق انتقال او په ځانګړې توګه د پایو ساتنه په دې شرایطو کې ډېرې ستونزې لري. افغانستان اوس مهال هرکال له ازبکستان څخه زر میګا واټه بریښنا واردوي چې کلنۍ بیه یې ۱۲۰ملیونه ډالره ده. په هېواد کې د شته امکاناتو په کارولو سره، که د کونړ د سیند د پاسه د سور طاق، مناګي، کامې او ګمبیري پروژې سمې پلې او د بریښنا بندونه جوړ شي، نو د لومړۍ سروې له مخې ۱۳۰۰ مېګا واټه برق به ترلاسه شي. دا اندازه برق د کونړ له اړتیا زیاته او کابل ته انتقال کیدلای شي».
د کونړ هوارې ځمکې ډېرې کمې دي؛ نو که چېرته په عصري سیستم سره بندونه، ویالې او استنادي دېوالونه پورته شي، تقریباً شپېته زره جریبه نوره ځمکه به د کرنې وړ وګرځي. د حامد کرزي د لومړۍ دورې په مهال، په پام کې وه چې د مره ورې ولسوالۍ د لاهور ډاګ ته څېرمه یو کانال وکیندل شي چې شل زره جریبه ځمکې خړوبه کړي. د مودیرا فرانسوی مؤسسه، په کونړ، نورستان، جلال آباد او لغمان کې ځینې پرمختیایي پروژې درلودلې او د دغه کانال د جوړېدو بودیجې ته چمتو وه. د یادې مؤسسې د ختیز زون مشر، انجنیر عبدالرحمان ستارزي ډېرې منډې ترړې وکړې، خو مخ ته یې ډېرې واچول شوې او پروژه تالاترغۍ شوه.
(افغان ولس د کونړ پرسیند د بریښنا د بندونونو جوړېدل غواړي!) دا جمله نن سبا یوځل بیا په ټولنیزو رسنیو لکه فیسبوک، ټک ټاک او ټویټر/ اکس کې د یو کمپاین شعار دی چې په خوند سره زمزمه کېږي. د کمپاین ګډونوال وایي چمتو دي چې د بریښنا د بندونو د جوړېدو په چاره کې د خپل وس په اندازه له واکمن نظام سره مالي او تخنیکي مرستې وکړي. د رسنیو کارونکي وایي: موږ د ملي احساس لرونکي په زرګونو ژمن مسلکي کدرونه لرو؛ په کار ده چې د بهر ته د تللو په ځای د دوئ له وړتیاوو څخه کار واخیستل شي. ځارونکي هم باور لري چې د کونړ پرسیند د بندونو د جوړولو په اړه کمپاین ډیر ګټور او اغیزمند دی. مګر ستونزه دا ده چې ماړه حکومتونه او نړیوال مرستندویه بنسټونه ښایي دې برخې کې پانګونې ته زړه ښه نهکړي؛ ځکه هغوئ د اقتصادي ګټو په څنګ کې خپل سیاسي ابعاد هم سنجوي.
د کونړ پر سیند ۲۳ جوړ شوي پلونه:
د اروابناد اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او شهید ولسمشر، محمد داود د واکمنۍ پر مهال د کونړ په سیند باندې یوازې درې پاخه پلونه وو. لومړی د کامې په برخه کې وو، دوهم د سرکانو او دریم په اسمار کې، خو اوس دغه شمیر ۲۳ پلونو ته رسیدلی دی. د تازه جوو شوو پلونو په لړ کې یو د زیري بابا په سیمه کې دی چې بله غاړه یې ګاشکوټ او ګوریک دی. بل د سپین جومات او خاص کونړ ترمنځ دی چې پخوا به خلک دلته په جالو کې پوري وتل. ورپسې پل د څوکۍ او حکیم آباد په ساحه کې دی، بیا د کوټکي او پشد ترمنځ، بیا د ډنډونو او بیلي ترمنځ کیبلي پل دی چې البته دا د موټرو لپاره نه دی.
د سرکانو او ډنډونو مشهور پل، د مره ورې او اسعد آباد ترمنځ پل او دوه نور د لاهور ډاګ او پلوڅي له ناو سره دي. د بیلي او شلتن ترمنځ کیبلي پل، د شلتن او اسمار ترمنځ د ډمبر پل، د شین کورک په ساحه کې پل او د شیګل او شلتن ترمنځ پل. د اسمار نوی غټ پل، په دانګام کې دوه پلونه، د ناړۍ په سیمه کې کیبلي او د لرګیو پلونه او د دوکلام او بریکوټ ترمنځ ګڼ شمیر پلونه د یادونې وړ دي چې د خلکو په ورځنې ژوند کې ډېرې ترانسپورټي اسانتیاوې رامنځ ته شوی دي. ولی ناخوالی اړخ یې دا دی چې د مفسدو ټیکه دارانو او نالایقه انجنیرانو د درغلیو له وجې، د یادو پلونو ځینې له کاره لویدلي او تشې پایې او کیبلونه یې د یادګار په ډول ځوړند دي. (ژمي به تیر شي، خو سکاره به همداسې تورمخي پاتې شي).

[د لیکوال آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ